**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۹** **نېټه: ۱۰ / ۲ / ۱۴۴۴ هـ ق**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**وبعد:** په ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق نېټه چې له ۱۴۰۱/۵/۱۲ هـ ش سره برابره ده، د سترې محکمې د رئیس محترم الشیخ عبدالحکیم "الحقاني" صاحب په مشرۍ او د سترې محکمې د عالی شوری محترمو غړو، د مرکزي دیوانونو د محترمو رئیسانو، او د مرکزي قضایي ریاستونو د رئیسانو په ګډون د سترې محکمې د عالي شورا جلسه دایره شوه او د ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق نېټې د (۳) ګڼه تصویب په ترځ کې د بعضې موضوعاتو په تړاو پرېکړه وشوه تر څو د افغانستان اسلامي امارت له عالي محترم مقام سره شریک کړل شي. پر همدې بنسټ، د یادې جلسې موضوعات د اسلامي امارت محترم عالي مقام سره شریک کړل شول چې څلورمه موضوع یې په لاندې ډول وه:

((د پخوانۍ اداري محکمو د بېلا بېلو علتونو پر بنسټ لکه: تعنت، نفقه نه ورکول، غیبوبیت، د مسکراتو اعتیاد، عیب، د ضرر په سبب) د خاوند او ښځې ترمنځ په بېلتون (تفریق) فیصله کوله او بعضې یې اوس د اسلامي امارت له محکمو څخه د بېلا بېلو علتونو له امله بېلتون غواړي. محکمې په دې دواړو صورتونو کې (د پخوانۍ اداري د بېلتون حکم، او د اوسني بېلتون غوښتنه) کومه طریقه اختیار کړي؟))

د اسلامي امارت عالي محترم مقام د څلورمې فیصلې پر بنسټ په دې اړه لاندې هدایت وکړ:

((د بېلتون د لومړني صورت په هکله (چې د پخوانۍ اداري په وخت د بېلا بېلو عواملو پر بنسټ د خاوند او ښځې ترمنځ بېلتون واقع شوی وي)، مسئله تر کار لاندې ده، کله چې توحید او تایید شوه، ستونزه به حل شي او که توحید نه شوه، وروسته به تصمیم ونیسو.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

د بېلتون دویم صورت: د دویم صورت لپاره (ښځه اوس بېلتون غواړي) د حنفي مذهب مطابق دې د بېلتون اسباب او د هر سبب ځواب ولیکل شي وروسته دې د هدایت ترلاسه کولو په غرض د اسلامي امارت عالي محترم مقام سره شریک کړل شي.))

بناءً، د پورته یاد شوي مجلس د څلورمې موضوع په تړاو د افغانستان اسلامي امارت د عالي محترم مقام فیصله د دې متحدالمآل په ذریعه د اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته د معلوماتو په غرض واستول شوه.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.